مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدصدیق ننگ

۲۰۲۶/۰۸/۲۶

# غـزل

چا وې رڼا چا وې تورتم کیسي ریکارډ مات کړی
زموږ په کلي کې د غم کیسي ریکارډ مات کړی

چې په هر دم په هر قدم کې یې بې دمه کړمه
زما په حق کې د همدم کیسي ریکارډ مات کړی

تر (وهم فیها خالدون) یې پکې لار کړې ده
زما په زړه کې د صنم کیسي ریکارډ مات کړی

چې یې وحشت ته د ځنګله وحشت شو ګوته په غاښ
د هوښیار ژوي بنیادم کیسي ریکارډ مات کړی

امریکایي دموکراسي نتانیاهو او اپستین
د جنایت او د ستم کیسي ریکارډ مات کړی

د باچا خان او ماندیلا ډېر درناوی دی پکار
چې په زندان کې یې د زغم کیسي ریکارډ مات کړی.

محمدصدیق ننگ
د جولایي میاشت 2026 م کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ